مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي عبدالله

۲۰۲۲/۰۴/۲۶

# د غــم خــونه...

لس کاله می نه ؤ لیدلی، خو ناځاپه یی د پلار د جمه گی د خیرات کارت راورسیده ـ زه هم ورغلم ، کوم دیرش تنه په یوه لویه کوټه کی سره ناست ول.

میلمانه یو پر بل پسی په کوټه راننوتل او موږ ټول به ورته پاڅیدو، د روغبړ هر دور به پنځه دقیقی وروسته پای ته ورسیده، موږ ټول به بیرته کښیناستو، لابه مو سمبی ځمکي ته سمي نه وي تکیه شوی چی بیا به بله غټه خیټه په دروازه راننوته، موږ بیا پاڅیدو او له نابلده سړي سره به مو خیټي و جنګولي.

چی هر چاته به ور نږدی شؤ نو خوله به یی جینګه کــړه او هر یو به یې دري ـ دري ځلي مچو کړ. د خیرات په کوټه کی د روغبړ وار بیا هم ما ته را ورسیده او دا ځل یی بیا په غیږ کی ټینګ کـړم... شکمن شوم چی ګواکی پوښــتی می ماته شوه ـ دی می هم په ژوند کی نه ؤ لیدلی او د خیرات تر هغې ورځې وروسته مې یو هم بیا ونه لیده ...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ